۱ MARIF Weekly

هفته نامه معارف اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

هفته نامه
معارف
اوونیزه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق، شماره مسلسل ( ۲۷۰ ) ۱۸ ماه جمادی الاول ۱٤٤٥ هـ ق مطابق قوس ۱٤۰۲ د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

# د نورستان ولایت د شیخو او دیني علماوو پلاوي د پوهنې وزارت له سرپرست سره وکتل



د نورستان ولایت د شیخو او دیني علماوو پلاوي، د پوهنې وزارت له سرپرست الحاج مولوي حبیب‌الله آغا سره د پوهنې وزارت په مقر کې وکتل.

دواړو لورو، د یاد ولایت د پوهنې په برخه کې د شته ستونزو او ننګونو سربېره، د ښوونځیو او مدارسو لپاره د ودانیو د کمبود په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز یاد پلاوي، د نورستان ولایت له ښوونیزو خدمتونو څخه محرومو سیمو ته په اشارې سره وویل: له بده مرغه په تېرو ۲۰ کلونو کې د یاد ولایت د پوهنې او په ځانګړې توګه د دیني زده کړو د ودې او پرمختګ په برخه کې هېڅ پاملرنه نه ده شوې نوموړي پلاوي په دغه ولایت کې د ښوونیزو ستونزو د حل په موخه، یو لړ وړاندیزونه او نظریات د وزارت له مشرتابه سره شریک کړل. ۲مخ

د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معینیت له لوري، د یاد وزارت « د مرکزي ګدامونو او د اجناسو الکترونیکي ثبت سیستم» پرانیستل شو ۲مخ

په میدان وردګ ولایت کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه ۲مخ

دیدار معین تعلیم و تربیه وزارت معارف از ولایت پنجشیر ص۲

د آرامښت ۶ کلیانې ۳مخ

مهربان باش که این عمر گران می گذرد ص۳

## سرلیکنه

### آزموینه ارزونه ده

آزموینه د نړۍ په هر هېواد کې یو نارمل بهیر دی چې د خپل ښوونیز نظام او اقلیمي جوړښت ته په پام سره دغه چاره سرته رسوي زموږ په هېواد کې د سړو او ګرمو سیمو د آزموینې د پیل او ختم بهیر د پوهنې وزارت لخوا په ټاکل شوي وخت په کال کې دوه ځلې اخیستل کیږي د آزموینې څخه موخه د زده کوونکو پاتې کېدل او یا هم بریالي کېدل نه دي بلکه ښوونکي او زده کوونکي په دې چارې سره ارزول کیږي او دې پایلې ته رسیږي چې په روان کال کې ښوونکو په کومه کچه خپلې تدریسي چارې په بریالیتوب سره سرته رسولې او هم زده کوونکي په ځان ډاډمن کیږي چې په تیرو څلورنیمو میاشتو او یا هم په تیر شوي کال کې یې د خپلو زده کړو په برخه کې څومره پرمختګ کړی او په دې چاره کې بریالی پاتې شوي دي. پورته خبرو ته په کتو سره زموږ زده کوونکي دې ټکي ته باید ځیر شي چې د آزموینې لپاره باید زده کړه ونه کړي او ښوونکي باید زده کوونکي دې خبرې ته ځیر کړي ترڅو په دې خبره باوري شي چې آزموینه یواځې یوه ارزونه ده ښوونځي ته راتګ او زده کړه کول او یا هم په بل عبارت پوهه ترلاسه کول نه یواځې دا چې په دې کړنې سره به انسان پوهې او د انسانیت لوړې مرتبې ته ورسیږي بلکه د کائیناتو د لوی ښښتن په قدرتونو به هم پوه او د ایمان له پلوه به هم ډېر قوي او په ځان باوري شي اوس چې د ښوونیز کال وروستۍ ورځې دي او له دې آزموینې څخه وروسته به ټول زده کوونکي په یوه اوږده رخصتۍ ولاړ شي نو لازمه ده چې له دې فرصت څخه باید ډېره ګټه پورته شي یو زده کوونکی باید ځانته داسې مهال ویش جوړ کړي چې په هغه کې د تیر کال تیروتنې او د غفلت ځایونه په ګوته او په راتلونکي کال کې ترې ډډه وکړي او همدارنګه د بریالیتوب ۲مخ

## دیدار هیئت سفارت جمهوری اسلامی ایران با سرپرست وزارت معارف

به ریاست معاون سفارت جمهوری اسلامی ایران در کابل، هیئت هفت نفری آن سفارت با الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف دیدار وملاقات نمود.

در نخست سرپرست وزارت معارف تشریف آوری مهمانان را به وزارت معارف، خیر مقدم گفته و به تداوم همکاری های متقابل جهت بهبود وضعیت تعلیمی فرزندان مهاجرین افغان در ایران، همچنان تشریک و تبادل تجارب در بخش معارف میان هردوکشور، حسن هم جواری و حفظ منافع یک دیگر بحث و تاکید نمودند.



سرپرست وزارت معارف در ارتباط به بهبود وضعیت تعلیمی اطفال افغان های مهاجر در ج. ا. ایران، فراهم آوری سهولت های آموزشی متوازن برای آنان و یک سلسله موضوعات مرتبط به معارف صحبت نمود.

در پایان رئیس هیئت ایرانی اذعان داشت؛ هم اکنون حدود ۴۰ هزار محصل ومتعلم اتباع افغانستان در نهاد های تعلیمی و تحصیلی کشور مطبوع شان مصروف آموزش می باشند که برای تمام آنها تسهیلات لازم تعلیمی و تحصیلی فراهم شده است.

همچنان موصوف از پیشنهادات رهبری وزارت معارف در پیوند به تعلیم اطفال مهاجرین افغان مقیم آن کشور، استقبال کرده وعده سپرد که جهت عملی نمودن آن تلاش همه جانبه خواهند نمود و افزود که هم زمان با این تلاش ها ، باب همکاری های متقابل میان هردوکشور همسایه باز خواهد شد .

## د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان سفیر د پوهنې وزارت له سرچینو او اداري معین سره وکتل

په افغانستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان سفیر محمد العیاش او ورسره مل پلاوي، د



پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین محترم مولوي صبغت الله وصیل سره وکتل.

په یاده کتنه کې دواړو لورو د افغانستان د پوهنیز نظام، ننګونو او لاسته راوړنو په اړه مفصل بحث وکړ.

د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان سفیر د افغانستان په ټولو برخو په ځانګړې توګه د پوهنیز نظام برخه کې، د افغانستان.ا.ا. له لاسته راوړنو څخه مننه او قدرداني وکړه.

دغه راز نوموړي د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان په استازیتوب د پوهنې وزارت له مشرتابه سره ژمنه وکړه، چې د متوازنو ښوونیزو خدمتونو د پراختیا په موخه به له پوهنې وزارت سره په بېلابېلو برخو کې همکاري او ملاتړ وکړي.

وروسته د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین مولوي صبغت الله وصیل، راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست په ترڅ کې، د پوهنې له وزارت سره د یاد سازمان له همکاریو مننه او قدرداني وکړه.

## برای ۶۰۰ تن شاگرد در ولایت لوگر محیط سالم تعلیمی ایجادشد

در تداوم مساعدت های مردمی با معارف، همایون بهادر یک تن از شخصیت های معارف دوست ولایت



لوگر از دارایی شخصی خویش برای مکتب ابتدائیه هارون خیل شهر پل علم، مرکز آن ولایت تعمیر اعمار نمود.

تعمیر ابتدائیه مذکور دارای ۸ اتاق درسی با سایر ضروریات آن از جمله سیستم آبرسانی و برق سولری ص۲

# د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معینیت له لوري، د یاد وزارت « د مرکزي ګدامونو او د اجناسو الکترونیکي ثبت سیستم» پرانیستل شو

د پوهنې وزارت «د مرکزي ګدامونو د تنظیم او د اجناسو د الکترونیکي ثبت سیستم»، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې، چې پکې د پوهنې وزارت سرپرست، د یاد وزارت معینانو، یو شمېر مرکزي رئیسانو او کارپوهانو ګډون درلود، د یو شمېر رسنیو په حضور کې پرانیستل شو.

یاده غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شو ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا په خپلو خبرو کې مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د یاد وزارت د ګدامونو د تنظیم او د اجناسو د ثبت سیستم پر جوړېدلو خوښي څرګنده کړه او یاد سیستم یې د اداري چارو لپاره د روڼتیا، عدالت، آسانتیاوو رامنځته کولو، اعتماد او له فساد څخه د مخنیوي پر رامنځته کولو کې خورا اغېزمن وباله او په دې برخه کې یې د سرچینو او اداري معین له هڅو څخه ځانګړې مننه او قدرداني وکړه.

همدارنګه نوموړي له ټولو کارکوونکو څخه د اسلامي نظام پر استحکام ، د هېواد او ولس لپاره د واقعي خدمت کولو پر دوام ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې په دې برخه کې د پوهنیز نظام کارکوونکي بنسټیز مسئولیت لري تر څو د هېواد بچیان په اسلامي او ملي روحیه وروزي.

په ورته مهال، د یاد وزارت د سرچینو او اداري معین مولوي صبغت الله «وصیل»، د ګدامونو په ترتیب، تنظیم او روڼتیا کې د دغه سیستم پر ګټو خبرې وکړې او له خپلو تخنیکي کارکوونکو څخه یې د منني ترڅنګ، څرګنده کړه، چې د یاد معینیت تخنیکي ټیم په دې توانېدلی، تر څو په مرکزي ګدامونو کې ټول له کاره لوېدلي اجناس بیا ترمیم کړي.

نوموړي څرګنده کړه، د خپل اړوند تخنیکي ټیم په مرسته یې شاوخوا ۲۰۰ پایې کمپیوټرونه او ۲۲۰ پایې پرنټرونه بیا ځلی د ځانګړې تخنیکي ټیم په مرسته ترمیم کړي دي.

دغه راز د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق «صادق»، « د مرکزي ګدامونو او د اجناسو الکترونیکي ثبت سیستم» پر ګټو لنډې خبرې وکړې او ویې ویل: دغه سیستم کولای شي، په اړونده اداري برخه کې روڼتیا، پرمختګ، په کارونو کې چټکتیا او عدالت رامنځ ته کړي.

نوموړي د یاد وزارت له ټولو مرکزي رئیسانو څخه د هغوی د اغېزناکو کارونو او نوښتونو له امله ځانګړې مننه وکړه.

همدارنګه نوموړي د پوهنې وزارت اړوند ټولې ادارې، د ملت بچیانو لپاره د دیني او عصري علومو د آسانتیاوو په برابرولو کې مسئولې وبللې.

په پای کې یاد سیستم د پوهنې وزارت د سرپرست لخوا سره پرانیستل شو.

غونډه په هېواد کې د پوهنیز نظام د لاپرمختګ او اسلامي امت ته د خیر او فلاح په دعائیې سره پای ته ورسېده.




## په میدان وردګ ولایت کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د میدان وردګ ولایت جغتو ولسوالۍ کې د بیدمشک لومړني ښوونځي نوې ودانۍ، د یاد ولایت پوهنې رئیس مولوي محمد عثمان حریت لخوا په داسې حال کې پرانیستل شوه، چې د نوموړې ښوونځي مسئولینو، ښوونکو، یو شمېر علماوو، او د خلکو استازو هم حضور درلود.

یاد لومړنی ښوونځی د ۵۵ زره امریکایي ډالرو په لګښت په یو جریب ځمکه کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې، چې ځمکه او ټول لګښت یې د همدې ولسوالۍ د یوه علم پال ځوان له لوري ورکړل شوې دي.

د بید مشک لومړني ښوونځي نوې ودانۍ پر ۱۰ درسي ټولګیو سربېره نورې آسانتیاوې او اړین ملحقات هم لري.

د میدان وردګ ولایت پوهنې رئیس د یاد ښوونځي د پرانېستې پر مهال، د خپلو هېوادوالو له احساساتو مننه وکړه او له نورو یې وغوښتل، تر څو د هېواد د پوهنیز نظام په وده او پیاوړتیا کې خپله ملي او اسلامي ونډه ادا کړي.



## دیدار معین تعلیم و تربیه وزارت معارف



الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف و هیئت همراه شان غرض بررسی امور تعلیمی و تربیتی ریاست معارف ولایت پنجشیر، ارزیابی وضعیت آموزشی مکاتب آن ولایت، دیدار از جریان امتحانات شاگردان و یک تعداد مکاتب و مدارس، و نظارت از کارکرد های ریاست معارف ولایت یاد شده، وارد ولایت مذکور گردید.

معین وزارت معارف در نشستی اشتراک نمود که در آن ضمن،حضور رئیس و رهبری ریاست معارف، شماری علماء و منورین ولایت پنجشیر نیز اشتراک داشتند. در این مجلس ابتداء مولوی غلام ایشان حماس رئیس معارف ولایت پنجشیر تشریف آوری معین تعلیم و تربیه وزارت معارف را به آن ولایت خوش آمدید گفته، گزارش کوتاهی از فعالیت های آن ریاست را به رهبری وزارت معارف ارائه نموده مشکلات و چالش های فرا راه معارف آن ولایت را نیز به حضور رهبری وزارت معارف، برشمرد که مورد توجه قرار گرفت.

سپس معین تعلیم و تربیه وزارت معارف، پیرامون اهداف دیدار شان از آن ولایت به حاضرین معلومات داده و از آنها خواست تا از نظام تعلیمی کشور و پلان ها و برنامه های آن حمایت کنند و در راستای غنامندی تعلیمی مکاتب و مدارس دینی همکاری های مادی و معنوی نمایند.

همچنان موصوف از علمای کرام نیزخواست تا با توجه به جایگاه رفیع عالمان دین در جامعه و موثریت آن در تنویر اذهان عامه، به حمایت های شان از پروگرام های آموزشی وزارت معارف ادامه داده و فرزندان شان را به منظور کسب تعلیم به مکاتب و مدارس بفرستند تا در آینده مصدر خدمات شایانی به ملت و کشور خود شوند.

سپس هیئت با همراهی رئیس و مسئولین معارف به یکی از لیسه های مرکز آن ولایت رفته، جریان امتحانات سالانه را از نزدیک نظارت نمود و به تامین شفافیت در امتحانات تاکید ورزید.

## افتتاح تعمیر یک باب مکتب در ولایت دایکندی

کار اعمار تعمیر مکتب کلیم الله در ولسوالی شهرستان ولایت دایکندی تکمیل و طی مراسمی با اشتراک رئیس و هیئت رهبری ریاست معارف آن ولایت، علمای کرام، متنفذین قومی، معلمان و اولیای شاگردان افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

تعمیر این مکتب از بودجه شخصی افراد خیر و اولیای شاگردان به هزینه دو اعشاریه سه میلیون افغانی اعمار شده که دارای۶ صنف درسی، دو شعبه اداری با سایر ملحقات آن می باشد.

قاری عنایت سهار رئیس معارف ولایت دایکندی و برخی سخنرانان دیگر احساس معارف دوستی مردم شهرستان را قابل ستایش دانسته، پیرامون اهمیت تعلیم و تربیه و اعمار نهادهای آموزشی از منظر دین مبین اسلام و نقش سازنده آن در ترقی و توسعه کشور صحبت نموده و از مردم خواستند تا با تشویق فرزندان شان به فراگیری علم و معرفت، در شگوفایی کشور سهم بیشتر بگیرند.

در مقابل باشنده گان محل ضمن وعده همکاری های بیشتر با معارف از مسئولین ریاست معارف و نهادهای همکار خواستند تا در تهیه میز، چوکی و سایر ضروریات مکتب همکاری نمایند.

**د نورستان ولایت د...**

ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست، د نورستان ولایت د دیني علماوو د راتګ هرکلی وکړ او څرګنده یې کړه، د پوهنې وزارت مشرتابه خپلو درنو ولسونو ته ډاډ ورکوي، چې د هېواد په ټولو برخو کې به له هر ډول اړیکو پرته په متوازن او متعادل ډول ښوونیز خدمات وړاندې کوي او د پوهنې وزارت ژمن دی تر څو د هېواد د نوي نسل د روزنې لپاره خپلې هلې ځلې لاپسې زیاتې کړي.

دغه راز د پوهنې وزارت سرپرست د نورستان ولایت د علماوو له پلاوي سره ژمنه وکړه، چې ان شاءالله په نیږدې راتلونکي کې به د یاد ولایت د پوهنې د وضعیت د ارزونې په موخه، دغه ولایت ته رسمي سفر وکړي.

همدارنګه د پوهنې وزارت سرپرست، د علماوو ستونزې او نظریات واورېدل او د حل په موخه یې مسئولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

**آزموینه ارزونه...**

هغه رازونه چې په تېر کال کې ورسره مخ وو او ښه پایله درې په لاس ورغلې وه د تل لپاره د خپل ژوند او درسي چاپیریال د لارې مشال کړي.

خپل وخت په هیڅ عنوان بې ځایه ضایع نه کړي له هرې لحظې او ثانیې څخه په پوره توګه ګټه واخلي.

درنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو! پوهنې وزارت رهبري په دې هڅه کې ده چې افغان بچیانو ته د هېواد په ګوټ ګوټ کې د زده کړې زمینه او شرایط برابر کړي ترڅوهرافغان بچی د زده کړې له دغه ستر نعمت څخه برخمن او په دې سره د پوهې څښتنان شي او د همدغه پوهې په وسیلې سره زموږ جګړو ځپلی هېواد چې اوس، اوس یې د جګړو دغه کرغیړن ټغر ددې خاورې د رښتینو بچیانو لخوا ټول او په ټول هېواد کې د سولې ډاډمنه فضا حاکمه ده د خدمت جوګه شي.

**برای ۶۰۰ تن شاگردان ...**

می باشد که جمعا مبلغ ۳۵ هزار دالر امریکایی هزینه برداشته است.

در گشایش تعمیر مکتب یادشده، مولوی جنت گل عزیز رئیس معارف، علمای دین و بزرگان قومی اشتراک نموده بودند. رئیس معارف و برخی سخنرانان دیگر از احساس خوب این هموطن علم پرور در قبال معارف تشکر و قدردانی نموده و اقدام وی را در ردیف صدقات جاریه عنوان نمودند.

قابل ذکراست که نسبت نبود صنوف درسی در این مکتب، پیش از این حدود ۴۵۰ شاگرد این مکتب در زیر خیمه ها درس می خواندند.

گفتنیست که این ابتدائیه ۱۲ سال پیش ایجاد شده بود که اکنون شاگردان آن در زیر خیمه ها مصروف آموزش بودند.

این در حالی است که چندی قبل یک جوان دیگر این ولایت نیز زمینه تعلیم رایگان را برای ۸۰۰ طفل در این ولایت فراهم کرده بود.

**د کنړ ولایت پوهنې ریاست...**

څخه لیدنه وکړه او د خپل سفر موخه یې، د کډوالو ماشومانو د ښوونیزو ستونزو هوارول وبلل. یاد پلاوي د زده کوونکو له والدینو سره د خبرو پر مهال هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د پوهنې وزارت مشرتابه، د دوی د ماشومانو لپاره د زده کړو د آسانتیاوو برابرولو او د پوهنې بهیر د دوام په برخه کې ژمن دی.

دغه راز د پوهنې ریاست مسئولینو، د هغو راستنیدونکو ماشومانو او ځوانانو د نوم لیکنې بهیر پیل کړ، کوم چې په پاکستان کې یې زده کړې نیمګړې پاتې وې او هغوی ته یې د بیړنیو ټولګیو په جوړولو او ښوونکو په ګمارلو سره د زده کړو آسانتیاوې برابرې کړې.

**د یو شمېر ولایتونو د ...**

د دارالعلومونو او مدارسو له څه باندې 4500 تنو زده کوونکو څخه دا ډول آزموینې اخیستې او په خبره یې چې له لومړۍ تر لسمې درجې ممتازو زده کوونکو ته ډالۍ هم په پام کې نیول شوي دي.

ټاکل شوې ده، د یادو سیالیو پایلې په نږدې راتلونکي کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو اړوند د اسلامي زده کړو آمریتونو له لوري اعلان شي.

# ریښتینې سوله

تــورې شپې تـېرې شــوې رڼا راغـلـه
دې ګـران هــېواد ته ښــکلا راغــلـه
تارج شــوو ختم چــم په چــم د وطــن
ربښتــيانۍ ســوله هــره خــوا راغـلـه
ملـت نجـات ومـوند د ظـلم او ســتم
تيـارې شــوې ختــم په بــدل د ويـنو
ربښــتنۍ ســوله هــره خــوا راغـلـه
ښــاد به شـي آبـاد به شـي دا ګران هېواد
دلـته په هــر زړه کـې تمـنا راغـلـه

محمداکرم «وفادار»

# استاد مهربانم

استاد مهربانم ای بهتر ز جانم
باشم به خدمت تو تا زنده در جهانم
با لطف ومهربانی با صد شرین زبانی
الفاظ خوب و دلکش بنهادی در زبانم
استاد مهربانم ای بهتر ز جانم
باشم به خدمت توتازنده درجهانم
از راه دین یزدان، از احمد وزه قرآن
درسی که دادی برمن،باذوق دل بخوانم
استاد مهربانم ای بهتر ز جانم
باشم به خدمت تو تازنده درجهانم
فرموده است بزرگان از دین پاک سبحان
حق تو برتر آید از جمله دوستانم
استاد مهربانم ای بهتر ز جانم
باشم به خدمت توتا زنده درجهانم

بیرنگ کهدامن

## عبرت

دلته هر څه د حال په ژبه دي ګويا، هره پاڼه هر ښاخ، د عبرت په ژبه خبرې کوي.
د خار او خس څخه د لټون آواز راپورته کيږي زمانه د غافلانو د ويښېدو له پاره په سل رنګه اشاراو بدلونونو اوړي راوړي
خو د عبرت خاوندان ددې عبرت سرا څخه تېکي اخلي او غافل ترې بې بهرې وي غافل د زمانې په سل رنګه بدلونونو نه ويښيږي، او نه خبريږي ځکه چې په زړه کې يې د معرفت مشعل مړ د عبرت غوږ‌نه يې کاڼه، او د لټون سترګې يې ړندې وي.

## مکاره زمانه

هره پاڼه چې د ګل څخه، توېږي
صاحبدل په خپل، انجام باندې پو هيږي
مېږوخې لور چې د سپين ږيري پلار کره د ليرې ملکونو څخه ميلمنه راغلې وه.
پس له څه مودې د خدای پاماني په وخت کې يې، په داسې حال کې چې پلار يې د مريضی په بستر کې پروت وو او د خپلې لور او لمسيانو د تګ له پاره ژړه غونۍ وو نو لور يې ورته داسې وويل پلاره! مه ژاړه کال ته خير وي بيا راځو، پلار ژړا ته نور هم زور ورکړ ځکه هغه د فاني دنيا نه دومره مهلت ځان ته نه ليده، او د فاني دنيا په لو بو پوه وو. لور ته يې هيڅ ونه ويل خو ددې ناوييلې ټکي او مضمون درک به غير د صاحبدل څخه چا نه شو کولای
زه ګرم نه يم چې، ژړيرمه عالمه
په ټول عمر، د فاني دنيا له غمه
څه چې ما په دې، کاروان کې دي ليدلي
د غافل سترګې يې نه ويني، په سمه.

## ژور سوچ

پسرلی وو، او دګلونوموسم، تر هغه ځايه چې نظر کېده، ښکلا وه، سمه او غر په رنګين ګلونو پوښلي وو، درويش چې د ديواله اړخ ته ډېره لګولې او دې ورشو ته مخامخ ناست وو، سر يې په ګريوانه کې د ننه کړی وو،لاروی چې پرې د تېرېدو په حال کې وو، ور ږغ يې کړ: درويشه! سر د ګريوانه څخه راپورته کړه چې ګلونه او ګلزار ووينې، درويش وويل: سر په ګريوانه کې د ننه کړه چې د ګلونو خالق ووينې.

## د افسوس عالم

سپين ږيری بوډا چې ملا يې کړوپه وه، او په رپانده لاسونو کې يې لکړه وه، سر يې ښکته نيولی او دوه د لټون سترګې يې د ځمکې په لور ښخې کړې وې، تا به ويل چې ګوندې څه لټوي، او په ژور سوچ کې ډوب وو، يو ځوان هلک لاروی چې تر څنګه يې تېرېده، نو د ټوکې په انداز کې يې ورته ويل: بابا په خاورو کې څه لټوې؟
بابا په انتباهي انداز کې ورته وويل د افسوس په يو عالم کې لټومه مې، په خاورو کې ځواني.

## بې ګناه زنداني

حکايت دی چه وايي يو پادشاه يو درويش او فقير،بی ګناه زنداني کړخو د شپې يې خوب وليد چې غريب زنداني بې ګناه دی پادشاه دستور ورکړ او زنداني يې خوشې کړ او هغه يې ځان ته وغوښت او ډير يې نوازش کړ او ورته يې وويل: زما نه يو حاجت وغواړه، درويش وويل: هغه خدای جل جلاله چې په نيمه شپه کې يې ته د خوبه راويښ کړې، ترڅو ما آزاد کړې، او تا ته يې د عبرت ټکان درکړ، دا ډېره د نامردی خبره ده، چې زه د هغه درګاه پريږدم، او د بل چا له درباره څخه څه وغواړم.

## راځئ چې د محبت او مينې غېږه خلاصه کړو

دا سبا چې مور پرې دومره ډاډه يو، شايد چې دا سبا نه وي، نو غوره دا ده، چې يو بل د مهربانۍ په غېږ کې ونيسو، ځکه دا نه ده معلومه چې سبا به مهلت وي او که نه، ژوند ډېر ژر تيريږي، د مخه تر دې چې هر يو د اجل غيږې ته ورشو، نو راځئ چې يو بل ته د محبت او مينې غيږه خلاصه کړو، او يو بل په غير کې ونيسو.

## مهربان باش که این عمر گران می‌گذرد

مهربـان بـاش کـه ایـن عمـر گـران می‌گـذرد
قـدر ایـن لحظـه بـدان چـرخ زمـان می‌گـذرد
بـر لبـی گل بنشـان دسـت فقیـری تـو بگیـر
هرچـه بـا هر کـه کنـی، بر تـو همـان می‌گذرد
آسـمان را بـه زمیـن بـا قلـم عشـق بـدوز
زندگـی از بـرت ایـن گونـه روان می‌گـذرد
خنده کـن غنچـه‌ی احساس برویان کـه بهار
بـه همیـن سرعـت بسـیار جهـان می‌گـذرد
پاسـخ لطـف نگاهـی بـه محبـت تـو بـده
در عـوض از دلـت آن آه و فغـان می‌گـذرد
اگـر از عشـق بـه هـر سـینه گلـی هدیـه کنـی
غـم پریشـان شـده افسـوس کنـان می‌گـذرد
بـه تمنـای دو چشمـان بهـارانه‌ی تـو
روز و شـب سـخت بر این سـوخته جان می‌گذرد

## ترانه معلم

معـلـم آفتـاب عالم افـروز جهـان باشی
چون بلبل نغمه خوان‌ءمهین واین بوستان باشی
معلـم شاد مان باشی، معلم جاویدان باشی
تومیسـوزی ولی بانورخود دنیا کنی روشن
ضیاءبخش شب تاریک طراوت بخش هرگلشن
تودایم سبـزوخرم فارغ از باد خزان باشی
معلم شادمـان باشی، معلم جاویدان باشی
توتعلیم داده ای عشق واخوت،عدل یاری را
شرافت راصـداقت را تلاش وبردباری را
توفخرعالم وانـسان وفـخر هرزمان باشی
معلم شاد مان باشی معلـم جاویدان باشی
زفیض علم تودنیـا شده باغ جناح اکنون
بتومقامت گشـته ام نغمه خـوان اکنون
توای والا گهرتذنیـن شعروشاعران باشی
معلم شادمان باشی، معلم جاویـدان باشی
معلم آفتـاب عالم افـروزجهـان باشی
معلم شادمان باشی معلم جاویـدان باشی
چوبلبل نغمه خوان میهن واین بوستان باشی

# د آرامښت ٦ کلیانې

١ : هغه څوک چې درته ارزښت نه درکوي، ارزښت مه ورکوه.
٢- چې هر څومره تکړه وې، نو پر نوښتونو باور ولره.
٣- له نورو څخه خپله توقع د صفر کچې ته را ښکته کړه.
۴- که د هر څوک د سکوت په مرسته مؤدب نشو کړلی، نو غلۍ کښېنه او صبر وکړه تر څو يې روزګار مؤدب کړي.
۵- هر انسان د خپل شعور او شخصيت په اندازه کولای شي چې ستاسو ارزښت تشخيص کړي.
۶- هر هغه څوک چې ستا په ارزښت پوه نشو نو خپله لار ترې جلا کړه.

## هېڅکله مه تسليمېږه !

يوه ورځ به ته په هغه موقف/ ځای کې ژوند کوې چې تا بار بار په دعا کې غوښت مګر خپله هڅه دې جاري وساته.

## د ژوند تجربې!

که چېرې په ژوند کې مو هېڅکله هم د خوسا مڼې خوند نه وي څکلۍ، نو تاسو د يوې ښې مڼې په ارزښت هېڅکله هم نشی پوهېدلای، تاسو په ژوند کې بايد تجربې تر لاسه کړی تر څو په ژوند پوه شی.

## شپږ ګناهونه چې انسان د هلاکت کندې ته غورځوي!

١-په کومه ګناه چې عمر کميږي له خپلې مېرمنې سره بد سلوک او چلند دی.
٢- په کومه ګناه چې په انسان باندې لعنت ويل کيږي دروغ ويل دي.
٣- په کومه ګناه چې رزق بنديږي زنا کول دي.
۴- په کومه ګناه چې انسانيت تباه کيږي قتل دی.
۵- په کومه ګناه چې سړی بدناميږي نشه ده.
۶- په کومه ګناه چې نعمتونه کميږي تکبر او غرور دی.
ګناه په توبه ښښل کيږي راځئ چې د الله تعالی په دربار کې ريښتينې توبه وباسو او ګناهونه پريږدو.

## د الله جل جلاله سره هر څه شته !

يوازې عقيدې سمې کړی.
په ياد ولره !
په قبر کې يوازې نيک عمل د انسان مل دی
دا فکر مه کوه چې الله جل جلاله زموږ دعا ژر نه قبلوي، بلکې پدې شکر وباسه چې الله تعالی زموږ د ګناهونو سزا ژر نه راکوي.
د الله جل جلاله راضي کول ډېر آسانه دي، يوه اوږده سجده، او څو څاڅکي اوښکې.

## د انسان ويره !

هغوی چې تل ويره لري چې مور به يې بايلو، هېڅکله به ګټونکي نشي.

## له نامحرمه ښځو څخه د سترګو ساتل!

له نامحرمو ښځو څخه سترګې ساتل د انسان په زړه کې ځواک، مېړانه او فراست پيدا کوي، او په زړه کې يو ډول خوښي، ډاډ، او سکون پيدا کوي.

## د الله جل جلاله ذکر!

تل د الله جل جلاله ذکر کوه ځکه ذکر درې شيان تازه کوي.
١ – ايمان
٢- روح
٣- زړه
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي!
څوک چې جنت ته داخل شي نو په نعمتونو کې به وي نه به يې جامې زړيږي، نه به ورته تکليف وي او نه به يې ځواني تماميږي.

## په ځان باور!

د برياليتوب دويم نوم په ځان باور دی
او د برياليتوب لپاره اړينه ده چې تاسې په خپل ځان باور پيدا کړی.

## رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی!

کوم کس چې په لږ رزق دالله جل جلاله څخه راضي شي نو الله جل جلاله به له ده څخه په لږ عمل راضي شي.

## بخښنه !

بخښنه د انسان کمزوري نه بلکه د انسانيت لوړ حد څرګندوي.

Newspaper **Marif** Weekly

مسئول مدیر: سعید «جلال»
کتنپلاوی: مولوی عزیز احمد «ریان»
الحاج مولوی شهاب الدین «ثاقب»
قاری منصور أحمد «حمزة»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
انځور اخستونکی: محمد اشرف «رسولی»
ډیزاینر : محمد قسیم «یعقوبی»
تیراژ: ۲۰۰۰

پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper۱۹۱۹@gmail.com
د اړیکی شمیره: ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 270,2023


## بازدید هیئت عالی رتبه وزارت معارف از ریاست معارف ولایت بلخ

هیئتی بلند رتبه معینیت منابع و اداره وزارت معارف به ریاست مولوی سید حفیظ الله رئیس خدمات این وزارت به هدف بررسی بودجه مالی ریاست معارف ولایت بلخ، وارد آن ولایت شد.

هیئت در حالی که الحاج مولوی عبدالجلیل شهید خیل رئیس معارف آن ولایت نیز حاضر بود با رهبری مقام ولایت و مستوفیت ولایت بلخ دیدار و ملاقات نمود. این دیدار که در محوریت فعالیت های ریاست معارف و چگونگی تطبیق بودجه آن ریاست صورت گرفت، در رابطه آن بحث های مفصل صورت گرفته، کارکرد های ریاست معارف را در پیوند به صرفه جویی از بودیجه قناعت بخش ارزیابی نمودند و در ارتباط به رفع نواقص کاری مشوره های لازم صورت گرفت.

در ادامه مسئولین مقام ولایت و رهبری مستوفیت ولایت یاد شده در جهت حمایت از تطبیق برنامه های ریاست معارف ابراز آمادگی نموده و به همکاری های دوامدار نهاد های خویش از معارف تعهد سپردند.

## د پوهنې وزارت آنلاین زدکړو لپاره جوړ شوې د ډیجیټلي ستودیوګانې رسماً پرانیستل شوې




نوموړې ستودیوګانی چی د پوهنی وزارت د ساینس په مرکز کی جوړ شوي دي د پوهنی وزارت محترم وزیر الحاج مولوي سید حبیب الله او یو شمیر نورو اړوندو ریاستونو ریسانو له خوا پرانستل شوې، یادی ستودیوګانی د محمد بن سلمان د بنسټ په مالي مرسته ، د اسلامي هیوادونو د تعلیمي علمي او کلتوري (آیسیسکو) سازمان په همغږۍ او د یونسکو او آیسیسکو ملي کمیسیون له طریقه پوهنی وزارت ته جوړشوې دي.

دا ستودیو ګانې د آنلاین زدکړو د تدریس او ثبت په موخه جوړې شوې چی په معیاري سیستم او پر مخ تللو کمپیوتر لپونه مجهز دی او په آنلاین بڼه د تدریس ظرفیت لري، په دې سره به پوهنی وزارت وتوانیږی چی د هیواد په کچه ټولو هیواد والو ته با کیفیت تعلیمي خدمات وړاندی کړي.

## پایان ورکشاپ مدیران نشراتی ریاست های معارف ولایات جنوب شرقی کشور

ورکشاپ آموزشی سه روزه که در مرکز ولایت پکتیا برای مدیران نشرات، طبع و توزیع کتب درسی ریاست های معارف ولایات جنوب شرقی کشور (پکتیا، پکتیکا،خوست و لوگر) تحت ریاست قاری منصور احمد حمزه رئیس نشرات و روابط عامه دایر گردیده بود، موفقانه پایان یافت.

در مراسم پایانی کار ورکشاپ، رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف با اشاره به




داشته‌های علمی ورکشاپ مذکور، تصریح کرد؛ هدف اساسی این ورکشاپ ارتقای ظرفیت کاری کارمندان بخش های نشراتی، طبع و توزیع کتب درسی ومدیریت گدام های کتاب، ریاست های معارف ولایات یاد شده بود که به همین منظور از سوی مسئولین وزارت معارف برای اشتراک کننده‌گان ورکشاپ در موارد اساسات خبر نویسی، طرق معیاری توزیع کتب و مدیریت از گدام ها آموزش داده شد. گفتنی است که وجوه مالی این ورکشاپ‌ها از طرف یکی از نهاد های کمک کننده تمویل می شود.

## د کنړ ولایت د پوهنې ریاست پلاوي په یاد ولایت کې د کډوالو له پنډغالي څخه لیدنه وکړه



د کنړ ولایت پوهنې ریاست مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ د یاد ریاست پلاوي، په دغه ولایت کې له پاکستان څخه د تازه راستانه شویو کډوالو له پنډغالي ۲مخ

## په تخار ولایت کې د قرآن کریم ۳۰ تنه حافظان فارغ شول

د تخار ولایت مرکز تالقان ښار د پوست خور مدرسې، د ۳۰ تنو حافظانو پر سرونو د فضیلت پګړۍ د یو لړ مراسمو په ترځ کې چې پکې د پوهنې مسئولینو، دیني علماوو، مشرانو او د کورنیو غړو ګډون درلود، وتړل شوې.

په یاده پرتمینه غونډه کې د پوهنې ریاست مسئولینو او نورو ویناوالو فارغانو ته د مبارکۍ ویلو ترڅنګ، په ټولنه کې د علماوو پر مقام او د قرآن کریم د حفظ په فضیلت خبرې وکړې.

د غه راز هغوی په هېواد کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د چمتو شویو فرصتونو سربېره د امنیت د ټینګښت په اړه خوښي څرګنده کړه.

د تخار پوهنې ریاست مسئولینو له خلکو



وغوښتل، تر څو خپل ماشومان د سالمې روزنې او زده کړو په موخه، ښوونځیو او مدارسو ته واستوي.

ګډون والو د خپلو اولادونو د زده کړو په برخه کې د خوښۍ په څرګندولو سره ژمنه وکړه، چې د پوهنې له بنسټونوسره به خپله همکاري لا پسې غښتلې کړي.

## د یو شمېر ولایتونو د دارالعلومونو او مدارسو د زده کوونکو تر منځ «علمي سیالۍ» ترسره شوې

په کندهار، ننګرهار، کندوز، بلخ او پکتیا ولایتونو کې، د دارالعلومونو او مدارسو د څه باندې ۴۵۰۰ تنو زده کوونکو ترمنځ، «علمي سیالۍ» ترسره شوې.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت مسئولینو، د یادو سیالیو اساسي موخه، د دارالعلومونو او مدارسو د زده کوونکو د علمي سوېې لوړول وبلل.

د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس مولوي عبدالقدوس قدوسي، په کندهار ولایت کې د یاد وزارت له لوري بسته بندي شوې پارچې د زده کوونکو پر مخ پرانیستلې او څرګنده یې کړه چې له یادو سیالیو یې موخه، د زده کوونکو د استعدادونو پراختیا او د هغوی تر منځ د سالم رقابت رامنځته کول دي.

نوموړي زیاته کړه چې ددغه سیالوړۍ به دهېوادټولوولایتونوته وغځول شي چې تر دې مهاله یې په کندهار، ننګرهار، کندوز، بلـخ او پکتیا ولایتـونـو کې ۲مخ



## رئیس جدید معارف پنجشیر معرفی شد

رهبری ولایت پنجشیر رئیس جدید معارف این ولایت را امروز به کارمندان مربوطه معرفی کرد.

مفتی حبیب الله نوری قتاده که تازه به صفت رئیس معارف پنجشیر تعیین شده است طی مراسمی از سوی الحاج حافظ محمد آغا حکیم والی این ولایت به کارمندان مربوطه معرفی شد.

والی پنجشیر در مراسم معرفی در حالی که مسوولان محلی امارتی، علماء و استادان شرکت داشتند گفت که تغییر و تبدیل در نظام اسلامی یک اصل پذیرفته شده است.

وی خاطرنشان کرد که در امارت اسلامی افغانستان وظیفه گرفتن امتیاز



نیست بل یک مسوولیت بزرگ است. وی در ادامه صحبت‌های خویش ضمن خوشی از کارکرد رئیس معارف قبلی پنجشیر تصریح کرد که امارت اسلامی افغانستان با همچو تغییر و تبدیل های خویش تلاش می کند تا زمینه حکومتداری خوب و معیاری را مساعد و زمینه بهتر عرضه خدمتگزاری به مردم را فراهم کند.

وی در پایان سخنانش از رئیس جدید معارف پنجشیر خواست تا در قسمت تغییر کیفی مثبت معارف بیشتر تلاش کند.

بعداً رئیس جدید معارف پنجشیر نیز طی سخنانی گفت که او طبق پالیسی وراه‌کارهای وزارت معارف امارت اسلامی افغانستان در عرصه پیشرفت کمی و کیفی معارف در سطح پنجشیر تلاش می‌کند و زمینه بهتر آموزشی را برای اولاد این مرزوبوم مساعد می کند.